# خپل dTap واکسین ترلاسه کړئ!

## د ډیپتیریا، تیتانوس، د سیلولر پرتوسس (dTap) واکسین

### دا واکسین مو د څه په وړاندې ساتنه کوي؟



د دریو مختلفو ناروغیو څخه مو ساتي:

- Diphtheria ډیپتیریا: د پوزې او ستوني یو باکتریایی انتان دی چې کولی شي د تنفس یا بلعه کولو ستونزو ترڅنګ، د زړه د ناروغیو او فلج (د بدن ټولې یا یوې برخې د حرکت کولو توان له منځه تللو) سبب شي.
- تیتانوس: دا یو باکتریایی انتان دی چې په عصبي سیستم برید کوي او د ژامې او د بدن د عضلاتو په ګډون چې تنفس کنټرولوي د هغوي د نه کنټرول کیدونکي سپاسمونو یا شخوالي لامل کیږي. دا کولی شي د بلعې، تنفس ، جټکو او مړینې سبب شي.
- pertussis (توره ټوخله): د هوایی لارو او سږو یو باکتریا انتان دی. دا د یو اوږدمهاله ټوخي لامل کیږي چې کیدای شي له څو اونیو څخه تر میاشتو پورې دوام وکړي او د تنفس ، د بلعې ستونزې ، او سینه بغل لامل کیږي.



### څوک باید دا واکسین ترلاسه کړي؟

که تاسو په عادي مهالویش کې خپل معمول واکسینونه کړي وي تاسو د dTap اضافي ډوز (بوسټر) ته په لاندې وختونو کې اړتیا لرئ

- هم ټولګي (د 14-15 کلنۍ عمر) کې د ښوونځي د واکسین کولو پروګرام د یوې برخې په توګه.
- که تاسو خپل ځان په یو ناپاک شی سره غوڅ کړی یا سوری کړي وي (البته دا به ستاسی د واکسین د اخری
- ډوز پورې اړه ولري).
- هر 10 کاله بعد ټولو بالغانو ته.
- د امیندوارۍ په جریان کې (دا غوره ده که تاسو د 27 او 32 اونیو ترمنځ د حمل کې دا واکسین ترلاسه کړئ).
- که تاسو د ماشوم سره نږدې تماس کې یاست، او تاسو هیڅکله د د بالغ په توګه د pertussis واکسین نه دی کړي.



### څوک باید دا واکسین ترلاسه نکړي؟

که تاسو د واکسین کومې برخې سره حساسیت لرئ. که تاسو د دې واکسین وروسته یا ورته یو واکسین څخه شدید یا غیر معمولي جانبي عوارض یا بده اغیزه پیدا کړې وي.

---

**که تاسو کومې اضافي پوښتنې لرئ یا غواړئ خپل واکسین واخلئ؟ تاسو کولی شئ:**

- د روغتیایی خدماتو ۸۱۱ شمیرې سره اړیکه ټینګه کړې.
- د نوي راغلو خلکو لپاره د څو ژبو روغتیا مرکز ته په 587-392-8062 شمیرې اړیکه ټینګه کړې.
- د خپل کورنۍ ډاکټر یا د لومړني صحي خدماتو مرکز سره اړیکه ونیسئ.

AIMGA
Alberta International Medical Graduate Association
19 TO ZERO
UNITED AGAINST COVID-19
*Financial contribution:*
Public Health Agency of Canada
Agence de la santé publique du Canada
ACTION 4 HUMANITY DEVELOPMENT FOUNDATION
CREATING BRIGHTER FUTURE